UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د ستراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بيانيه
http://unama.unmissions.org

## یوناما د ملی شورا د پرانیستلو څخه د جنوری په ۲۶ نیټه هرکلې کوی

کابل، ۲۵ جنوری ۲۰۱۱ : د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د هغه تفاهم هر کلی کوي چې د اوسنیو مذاکرو په پایله کې چې د افغانستان د جمهوری ریاست او د افغانستان د پارلمان تر منځ تر لاسه شو څو چې د جنوری په ۲۶ نیټه د ملی شورا غونډه پرانیستل شي.

د دې سربیره د هغې همکاری د روحیې ستاینه کوي چې د جمهوري ریاست د دفتر او د پارلمان د نوو انتخاب شوو غړو تر منځ شتون لرې. او دا د جمهور رئیس په حضور کې د پارلمان د پرانیستنې لپاره لاره هواروي څو چې هغه د افغانستان د دیموکراتیکې حکومتدارۍ لپاره مهمې دندې بیا پیل کړي.

یوناما او نړیوالې ټولنې د دواړو پیغامونو بیا کتنه کړې ده او د هغه اړوند عناصر یې یادداښت کړي دي. هغوي یو ځل بیا د امنیت د شورا د ۲۰۱۰ کال د دسمبر د ۲۲ نیټې د هغې اعلامیې یادونه کوي کومه چې د افغانستان د اساسی قانون له مخې د ځواکونو پر جلا والی تاکید کوي او د اړوندو افغاني شاملو اړخونو څخه غواړي چې دې ځرګنده نهادونو ته درناوي وکړي.

ملګري ملتونه د قضا دا حق تاییدوي چې د افغانستان د نافذ قانون پر بنسټ پرته له دې چې قانوني کړنو او هغه اړونده مصونیتونو ته چې په اساسي قانون راغلي دي زیان ورسیږي د ځانګړو انفرادی جنایی قضیو قانونی تعقیب وکړي.

دغې پروسې دا ځرګنده کړه چې د افغانستان د دیموکراتیکو نهادونو ترمنځ یو رغنده بحث روان دی چې د ځوانې دموکراسۍ لپاره یوه هڅوونکې نښه ده.

نړیواله ټولنه باید له نږدې څخه انکشافات په پام کې ولري او تمه لري چې په راتلونکو میاشتو کې د اجراییه، مقننه او قضایه ځواکونو سره په مشارکت کې کار وکړي چې د اساسي قانون سره سم خپلې اړوندې دندې سرته ورسوي.

یوناما او د نړیوالی ټولنی نور غړي په پام کی لري چې د جنوری په ۲۶ نیټه د پارلمان د پرانیستلو په مراسمو کې ګډون وکړي .

پای

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org
Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.